مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۷/۲۳

# احمد بن حسن میمندي

د حسن میمندي په باره کې مې د ښاغلي محمدمعصوم هوتک له کتورو معلوماتو ډک مضمون ولوست. حقیقتاً یې ډیرو پوښتنو ته جوابونه ویلي وه. البته ما چې له پوهاند صاحب بشیر دودیال څخه د خپل ځان د پوهولو لپاره کومه پوښتنه کړې وه د هغې پوښتني لپاره مې قناعت بخښونکی جواب پکښې پیدا نه کړ. له پوهاند صاحب څخه زما پوښتنه دا وه چې موږ په کوم استناد وایو چې پښتو الفبا د سلطان محمودغزنوي په دربار کې جوړه سوه او دا ابتکار خواجه احمد میمندي کړی دی. زما پوښتني د کوم اعتراض او انتقاد شکل نه درلود بلکه په ریښتیا هم زه تر اوسه دې پوښتني ته جواب نه لرم او، د پښتو ژبې د یوه شاعر او لیکوال په حیث مې، د خپل ځان د پوهولو او اطلاعاتو تر لاسه کولو په منظور سوال مطرح کړی وو.
د پښتو د لومړنی الفبا د جوړېدلو په هکله، ښاغلي دودیال لیکلي وه چې خواجه حسن میمندي د سلطان محمود غزنوي په دربار کې دغه الفبا ایجاد کړه. د ښاغلي دودیال د دې ادعا اساس حتماً د مرحوم پوهاند رشاد صاحب هغه مضمون دی چې د پیر روښان د کتاب خیرالبیان د قلمي نسخې پر عکسي چاپ یې کښلی دی.
پوهاند صاحب رشاد هم په دې اړه د خپلو معلوماتو منبع د قاضي خیرالله نوښاري د پښتو قاموس خیراللغات د مقدمې متن ښودلی دی. قاضي صاحب خیرالله په خپله هغه مقدمه کې لیکلي دي چې د سلطان محمود غزنوي وزیر احمد بن حسن میوندي، قاضي سیف الله وګماره چې د پښتو ژبې الفبا جوړه کړي.
ښایي دا به لومړی ځل وي چې حسن میمندي ته حسن میوندي لیکل سوی دی.
قاضي خیرالله نه یوازې موږ ته حسن میمندي د پښتو ژبې یو عالم را معرفي کوی بلکه د قاضي سیف الله په نوم یو بل پښتون عالم، چې میمندي د پښتو ژبې د الفبا جوړولو اعتماد وربادي کوي، هم را معرفي کوي. دا چې ولي حسن میمندي پخپله د پښتو الفبا نه جوړوله ښایی اصلی علت به یې د وزارت د کارونو زیاتوالی وو.
مرحوم پوهاند صاحب رشاد په خپل هغه مضمون کې لیکلي دي چې قاضي خیرالله د خپلې ادعا د ثبوت لپاره کوم سند نه دی وړاندي کړی او نه یې د کوم کتاب حواله ورکړې ده.
مرحوم پوهاند صاحب رشاد، چې یو امانت کار محقق وو، ډېر ښه ټکي ته اشاره کړې ده. قاضی خیرالله خپل خیراللغات قاموس په ۱۹۰۳ میلادي کال کې ترتیب کړی دی، چې، د سلطان محمودغزنوي په زمانه کې، د خواجه احمد میمندي د وزارت څخه زیات و کم ۹۰۰ کاله فاصله لري. د تاریخ د یوه شاګرد لپاره دا سوال حتماً پیدا کیږي چې قاضی خیرالله د خپلي دونه مهمي ادعا د ثبوت لپاره ولي معتبر مأخذ ذکر کړی نه دی( څرګنده خبره ده چې مأخذ موجود نه وو) په حقیقت کې د مأخذ په باره کې د مرحوم رشاد صاحب همدغه سوال دی چې د قاضي صاحب د خیالي مانۍ بنسټ لړزوي. زه پخپله د پښتو ژبې شاعر او لیکوال یم. زه طبعاً په دې خوشاله کیږم چې د پښتو ژبې د لیکلیو متونو سابقه له څلور سوه کلونو څخه زرو یا زیاتو کلونو ته وغځیږي؛ مګر چې لیکلی معتبر سند او مأخذ موجود نه وي نو سړی به ولي په خیالي متونو استناد کوي.
مرحوم پوهاند صاحب رشاد د خیرالبیان د قلمي نسخې پر عکسي چاپ باندي د مقدمې په ترځ کې د پیر روښان د دې ادعا په باب چې د پښتو الفبا توري هغه ته د حق سبحان له لوري د الهام په توګه ور وښودل سوه لیکي:
« د بایزید اورمړ ( پیر روښان) پیرو، دولت لوانی د خپل بومیا (مقتدا) خبره داسي نظم کړې ده:
افغاني لفظ مشکل وو لوست کوېښ نه شه
ورته وشوه، کننده دیارلس حرفونه
مشهور ختیځ پوه جارج مارګینسترن ناروېژي د روښنانیانو دا ادعا داسي رد کړې ده:
« که د پښتو دا رسم الخط خالص د بایزید ایجاد وای نو اخوند درویزه به ځانله خپل رسم الخط ایجاد کړی وو او د خپل حریف پیروي به یې هیڅکله خوښه کړې نه وای»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

يو ځل به دولت لواڼي ته منسوب بيت وګورو او بيا به راسو د مارګينسټرن خبري ته.
دولت لواڼي ته منسوب، دا پورتنی بيت د دولت لواڼي په هغه چاپی نسخه کي چي پښتو ټولني خپره کړې ده نسته او بله نسخه يې ما نه ده ليدلې. دوهمه خبره دا ده چي د پښتو خاص توري اته دي( ټ ځ څ ډ ړ ږ ښ ڼ) او له فارسي سره مشترک توري يې ( چ پ ژ ګ) څلور دي. پير روښان بايد اته توري جوړ کړي وي او که يې له فارسي سره مشترک توري هم ورسره اخيستي وي بيا هم ټوله ديارلس توري نه بلکه دوولس توري کيږي. بله خبره دا ده چي پير روښان د « ژ» له توري څخه هيڅ کار نه اخلي او هر وخت د ژ پر ځای ږ استعمالوي او ږ هم کله په همدغه شکل ليکي او کله د « د» په غېږ کي ټکی ايږدي. دغه راز د « ګ» څخه کار نه اخلي او د ګ او ک دواړو پر ځای « ک» ليکي. که د خيرالبيان له متن څخه د «ژ» او «ګ » توري ليری يا کم کړو په دې حساب نو ګواکي د پښتو خاص توري او د پښتو او فارسي مشترک توري، چي بايزيد د خيرالبيان په ليکلو کي کار ورڅخه اخيستی دی ۱۳ نه بلکه ۱۰ توري کيږي. او دولت لواڼي ته پورتنی منسوب سوی بيت په هر صورت جعلي ثابتيږي.
اوس به راسو د مارګينسټرن خبري ته: د هغه دا خبره يو څه منطق لري چي وايی که د پښتو رسم الخط د پير روښان ايجاد وای نو اخوند درويزه به ځانله خپل رسم الخط ايجاد کړی وای او د خپل رقيب له رسم الخط څخه به يې کار نه وای اخيستی. خو دا خبره به هغه وخت ډېره پر ځای وای چي دا دواړه متونه سره همزولي او يا يې فاصله لس شل کاله وای. په داسي حال کي چي د خيرالبيان د ليکل کېدلو او مخزن د خپرېدلو تر منځ زيات و کم ۱۰۰ کاله فاصله ده او په دومره ډېر وخت کي هر څه ممکن دي. پير روښان د حالنامې په حواله په ۱۵۷۲ کال کي وفات سوی دی او مخزن د اخوند درويزه له وفات ۱۶۳۸ څخه وروسته د هغه زوی کريم داد را غونډ کړی او ترتيب کړی دی. تر دې وخته د ارزاني خويشکي، ميرزا خان انصاري، دولت لواڼي او نورو شاعرانو ديوانونه خپاره سوي او روښاني رسم الخط عام سوی وو. په دې صورت کي نو هيڅ عجيبه نه ده چي که د اخوند درويزه اولادونو او پيروانو او يا پخپله درويزه له دغي عامي سوي الفبا څخه، د خپلو متونو او نثرونو په ليکلو کي، کار اخيستی وي.
له بلي خوا په داسي حال کي چي د دواړو کتابونو ترمنځ د ليکني په سبک کي توپير سته د ځينو تورو په ليکلو او استعمال کي هم توپير سره لري. ګواکی د مارګينسټرن دا خبره ډېره پر ځای نه ده چي اخوند درويزه، کټ مټ، د خيرالبيان الفبا کاپي کړې ده. د مثال په توګه په خيرالبيان کي د « ژ» توری نسته او د ژ پر ځای هم د ږ له توري څخه کار اخلي.« او د حقيقت لارکان بللدی پږب ( په ژبه جهاني ) او ذکر دايم مدام ...»« ... په سپيدو چي څرګنديږی پغاړ د اسمان باقي وی څو نمر وخيږی عيان ...» په مخزن کي د «ژ» توری په سمه توګه او پر خپل ځای استعماليږي « خپسر پخپل پيژاندلی په بنده ب پيژانده شی». خيرالبيان د « ڼ » توری کاروي« پکيڼ لاس د پاس پنامه يا تر لاند نرينه او ارتينه د پسينه کښيږدی» او مخزن دا توری د « نړ» په شکل ليکي: « يا وکانړی يا و څلی يا و قبرته سجده کا» او د ځ پر ځای هر وخت څ کاروي « هر څوک پڅان څان شي» په خيرالبيان کي د ځ پر ځای تر « د» لاندي ټکی ايږدي. ( د مخزن د الفبا په برخه کي مي د ډورن د پښتو منتخبات له کتاب څخه استفاده کړې ده.) دغه راز په خيرالبيان کي « چی» او په مخزن کي « چه » ليکل کيږي. او زه ګومان نه کوم چي دا لږ تغيير دی او له نظره دي وغورځول سي.
د ۱۳۵۳ کال د جدي په مياشت کي د پير روښان د څلورسوم تلين په باب د کابل پوهنتون په کتابخانه کي يو بين المللي سيمينار جوړ سوی وو چي زه يې هم علمي غړی وم. په هغه سيمينار کي د پير روښان د دې ادعا د ردولو په باب چي پښتو الفبا هغه ته د الهام په شکل ور وښودله سوه او ده په خپل کتاب خيرالبيان کي کار ورڅخه واخيست چا هيڅ ونه ويل او ګواکي دا يو منل سوی حقيقت ګڼل سوی وو. علت يې دا وو چي زموږ په لاس کي خيرالبيان کتاب موجود وو او په مقابل کي د قاضي خيرالله د دې ادعا دثبوت لپاره چي پښتو الفبا د سلطان محمود په دربار کي وليکله سوه، لکه د قاضي صاحب سره چي هيڅ سند موجود نه وو او هسی بېځايه مغشوشيت يې ايجاد کړی وو، له بل چا سره هم هيڅ ډول سند نه وو او که چا څه ويلای نو يوازي به يې پر قياسونو او، د مارګنسټرن په څېر، پر منطق او استدلال باندي تکيه کولای.
ميمند او ميوند:
ما د هغو پخوانيو جغرافيو په کتابونو کي چي زما سره موجود دي د ميوند نوم نه دی ليدلی. زه نه پوهيږم چي د حسن ميمندي لپاره ولي ميوندي نوم غوره سوی دی. د خوشحال خان ختک تر دستارنامې پوري حسن ميمندي ليکل کيږي خو وروسته هغه ميوندي کيږي. زه پرته د نومونو له مشابهت څخه بل هيڅ دليل نه وينم.
په حدودالعالم کي چي د ۹۸۲ ميلادي په شاوخوا کي ليکل سوی دی د ميمند نوم نه دی راغلی خو د اصطخری په مسالک والممالک کي، چي د حدودالعالم څخه څه باندي ۵۰ کاله مخکي په ۹۳۰ ميلادي کي ليکل سوی دی ميمند د فارس په خاوره کي ذکروي:
« نواحی اردشير خُره: جور و ميمند قصبه آن ماپين است» ص ۱۰۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د مقدسي په احسن التقاسيم نومي كتاب كي:
اردشير خُره: خوره ايست كهن كه نمرود بن كنعان بنايش نهاده سپس سيراف بن فارس آنرا آباد كرد. بيشتر آن در كرانه درياى چين است. گرماى بسيار و ميوه اندك دارد . قصبه آن سيراف و شهرهايش گور، ميمند، نابند..... ص ۶۳۱
آذربايجان: از شهرهايش رسبه، تبريز، جابروان... ميمد( ميمند) برزند... ص ۵۵۵
په همدغه كتاب كي بل ځاى ميمند د سيراف له ښارونو څخه بولي: جور، ميمند، تابند سيمكان... ص ۷۴
او پخپله سيراف د عجم له اتو اقليمونو څخه د خاوران په اقليم پوري مربوط گڼي: سمرقند، ايرانشهر، شيراز..... سيراف، دارابجرد، شهرستان.... ص ۶۸
په تاريخ بيهقى كي لولو: « و امير رضى الله عنه روزدوشنبه بيست و پنجم ماه ربيع الاخر بسوى يمن آباد و ميمند رفت... امير بدان بناهاى پادشاهانه كه خواجه احمد حسن ساخته است، رحمه الله، بميمند بماند. ص ۶۳۱
خواجه حسن ميمندي بالاخره په هرات كي وفات سو او سلطان مسعود د هغه پر ځاى باندي خواجه احمد عبدالصمد د وزير په حيث مقرر كړ. بيهقى ص ۱۷۳
كه احمد ميمندي په هرات كي وفات سوى وي نو تر ميوند پوري د هغه جنازه لږترلږه په دوولسو يا ډيرو ورځو كي وړل كېدله چي هم د اسلامي شريعت له مخي روا كار نه وو؛ ځكه چي مړى بايد په هغه ورځ خاورو ته سپارل سوى واى او هم د هغه وخت د ټرانسپورټي شرايطو له مخي چنداني عملي كار نه وو او مړى هرو مرو خرابېدى.
مرحوم محمدولي ځلمي خو لا يو بل شهكار كړى دى او له حسن ميمندي څخه يې د كراماتو ښښتن پير او ولي جوړ كړى دى. د كندهار مشاهير په كتاب كي ليكي: « ... په ۶۲ كلنى كي وفات سو او مړى يې د هرات څخه زامنو ميوند ته راوړى. د ده زيارت د گنبدي په شكل د ميوند د شهيدانو سره دى. شهيدان د ده پر شاوخوا را گرځېدلي دي تر اوسه د رسنده او بزرگوار پير په حيث شهرت لرى. ښځي او نر يې د زيارت خوردې اخلي. وايي چي محمودغزنوي يوه ورځ د ده د ليدلو دپاره ميوند ته راتلې او له ځانه سره يې دا قبوله كړې وه چي كه دى ريشتيا بزرگوار دى زما او زما لښكرو ته به داسى خواړه وركړي چي تر اوسه يې نه وي خوړلي. ځكه هغه شيرچاى د پسرلي د هوسى د شيدو څخه ورته تهيه كړې او سلطان يې پخپل كرامت قانع كړ. د كندهار مشاهير ص ص ۹۲-۹۳
اوس به نو سړى ميمندي د پښتو ژبي عالم، وزير او كه ولي او غوث بولي چي د سلطان محمود په زړه خبر وو؟ د افسانو په باره كي خو سند ځكه نه سي غوښتل كېدلاى چي ليكوالان يې د ويل كيږي او وايي او نكل كا په عبارتونو ځانونه د هر ډول مسووليت څخه خلاصوي. خو له بده مرغه چي همدغه راز متون، چي هيڅ ډول استناد نه لري كله كله په جدى نظر كتل كيږي او د تاريخي مستندو متونو ځاى نيسي.
مرحوم محمدولي ځلمى پوازينى ليكوال دى چي د حسن ميمندي د كراماتو يادونه يې كړې ده. كه د هغه زيارت ته د خلكو د ورتللو او ارادت ځرگندولو خبره جدي ونيسو نو له ورايه ځرگنديږي چي په ميوند كي تر گنبدي لاندي پروت سړى هغه حسن ميمندي نه دى چي د سلطان محمود او وروسته د هغه د زوى سلطان مسعود وزير وو؛ بلكه كوم بل د خداى دوست به وو چي له خلكو څخه يې يا نوم هېر سوى او يا يې احمد ميوندي بللى دى.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينگه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكي په ځير و لولئ